# مریم

**مکی سورة دی ۹۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كٓهيعٓصٓ ١

**کاف، ها، یا، عین، صاد.( په اصلی معنی يې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی).**

ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ ٢

**( دا آیتونه چې تاته لوستل کیږی) د هغه رحمت یادونه ده چې ستا رب پخپل بنده زکریا لوررولی و.**

إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيّٗا ٣

**کله چې يې خپل رب ته( د شپې په توره تیاره اوخلوت کې د اصلی قاعدې او آدابو سره سم) پټه پټه دعا کوله.**

قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ
بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيّٗا ٤

**ویل يې: ای زما ربه!( په ښکاره خو زما د مرګ وخت رانږدې شوی) هډوکی مې په وچیدو دی او د سر (ویښتان) مې له زږښته سپین ځلیږی. او ای ربه! دعا می هم هیڅکله ستا له درباره رد شوې نه ده.**

وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ
لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا ٥

**او ویره مې دا ده چې له مرګ نه وروسته به مې خپل خپلوان( په دین کې غلط عملونه او ناروا چارې رایج کړی او زمونږ روحانی دولت به په فساد ککړ کړی) او میرمن می هم عقیمه ده نو ته پخپل خاص مرحمت سره ماته یو ملاتړی( وارث) راپه برخه کړه:**

يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ٦

**(داسې غوره او منلی وارث چې په ښه پوهه او درایت) هم زما او هم د یعقوب د کورنی (د نبوت،علم او حکمت) د وراثت چارې په مخ بوځی، او ای ربه هغه ته د غوره شخصیت مقام ورکړه.**

يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ
سَمِيًّا ﴿٧﴾

**( وحي ورته وشوه) ای زکریا! مونږ تاته د یحیی په نوم د یوه زوی زیری درکوو، چې له دې وړاندې، نه ځوک په دغه نوم، نومول شوی( او نه په دغه شان او صفت ځوک تیر شوی دی).**

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَكَانَتِ ٱمْرَأَتِى عَاقِرًا وَقَدْ
بَلَغْتُ مِنَ ٱلْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿٨﴾

**(زکریا د انسانی عادت له مخې بیا) وویل: ای ربه! زوی به مې ځنګه پیدا شی، چې ښځه مې عقیمه ده او زه د زړښت په وروستئ پوړۍ ولاړ یم.**

قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَىَّ هَيِّنٌ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ
تَكُ شَيْـًٔا ﴿٩﴾

**( د پرښتې له خوا) ځواب ورکړی شو: هو همداسې ده( چې ته یې وایې خو) ستا رب وایی چې دا کار ماته ډیر آسان دی ځکه له دې وړاندې مې ته هم له نیست نه هست کړی یې.**

قَالَ رَبِّ ٱجْعَل لِّىٓ ءَايَةً ۚ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ
ثَلَٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾

**(زکریا) وویل: ای ربه نو ماته یوه نښه وټاکه. ورته ځواب ورکړی شو: نښه دې داده چې په روغ رمټ صورت به درې شپې ورځې له چا سره د خبرو اترو قوت ونه لرې.**

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنَ ٱلْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا۟ بُكْرَةً
وَعَشِيًّا ﴿١١﴾

**( نو کله چې یې دخبرو قوت له لاسه ورکړ) له خپلې عبادت خونې ځخه راووت او خپل قوم ته یې په اشارو او رمز لارښوونه وکړه چې سهار ماښام( د الله تعالی) تسبیح او ستاینه وکړی.**

يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ بِقُوَّةٖۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا ١٢

اى يحيى!( د الله تعالى)كتاب( تورات) په قوت سره تینګ ونیسه( په تعلیماتو یې عمل وکړه او په نورو خلکو یې هم تطبیق کړه) او هغه( يحيى) ته مو لا په هلكتوب كې حكم ( پوهه او نبوت ) وركړى و.

وَحَنَانٗا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةٗۖ وَكَانَ تَقِيّٗا ١٣

او له خپل لورى مو هغه ته د مينې او خواخوږۍ احساس او پاكى او سپېڅلتيا( ور په برخه كړه) او هغه د تل لپاره پرهيزګار و.

وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ وَلَمۡ يَكُن جَبَّارًا عَصِيّٗا ١٤

او له خپلو والدينو سره نيكى كوونكى او حقوق پيژندونكى و، نه سركش او نه نافرمان.

وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا ١٥

او سلام دې وى په هغه باندې په هغه ورځ چې وزيږيد، په هغه ورځ چې وفات كيږى او په هغه ورځ چې بيرته راژوندى كيږى.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ١٦

او(عيسويانو ته بايد ثابته شى چې عيسى او مور يې د الله تعالى بندګان وو، او د الوهيت خبره يې كاملاً باطله ده نو، اى پيغمبره!) په دې كتاب كې د مريم ( داستان) درياد كړه، كله چې له خپلې كورنى څخه ليرې( د بيت المقدس) په ختيځه غاړه كې( د عبادت لپاره) ګوښه شوه.

فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ١٧

او له هغوى نه جلا په پرده كې كيناسته او مونږ ورته خپل روح(جبرئيل) واستاوه چې د هغې په وړاندې په يوه ښكلى او بشپړه انسانى بڼه راڅرګند شو.

قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ١٨

مريم وويل: زه ستا نه د رحمان( خداى) حضور ته پناه وړم. كه پرهيزګار يې( له ما نه ليرې اوسه).

قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمٗا زَكِيّٗا ١٩

( جبرئیل) وویل: زه ستا د رب استازی یم چې تا ته یو پاک سپیڅلی( او په ټولو اعلی اخلاقی معیارونو ممتاز) زوی دروبښم.

قَالَتۡ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞ وَلَمۡ أَكُ بَغِيّٗا ٢٠

(مریم) وویل: څنګه به زوی ولرم چې نه راته چا لاس راوړی او نه بدلمنه یم.

قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞۖ وَلِنَجۡعَلَهُۥٓ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِ
وَرَحۡمَةٗ مِّنَّاۚ وَكَانَ أَمۡرٗا مَّقۡضِيّٗا ٢١

( جبرئیل) وویل: همداسې ده( چې وایې خو) ستا رب فرمایی چې دا کار ماته ډیر آسان دی( او غواړم تا ته د بې پلاره زوی په درکړه سره) د خپل قدرت یوه نښه او رحمت خلکو ته وروپیژنم او دا کار هرومرو کیدونکی دی.

۞ فَحَمَلَتۡهُ فَٱنتَبَذَتۡ بِهِۦ مَكَانٗا قَصِيّٗا ٢٢

( نو مریم په عیسی سره) حامله شوه او له همدې امله ( له خلکو)لیرې خوا ( په بیت اللحم) کې ګوښه شوه.

فَأَجَآءَهَا ٱلۡمَخَاضُ إِلَىٰ جِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ قَالَتۡ يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا
وَكُنتُ نَسۡيٗا مَّنسِيّٗا ٢٣

نو د زیږون د درد د شدت له امله یې د خرما یوې ونې ته پناه ووړه( او له درد او غمه یې) وویل: کاش له دې وړاندې مړه او د خلکو له فکرونو او اذهانو هیره شوې وی.

فَنَادَىٰهَا مِن تَحۡتِهَآ أَلَّا تَحۡزَنِي قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيّٗا ٢٤

نو( جبرئیل ) ورته د ( ونې) له لاندې خوا غږ کړ: غم مه کوه، رب دې ستا د پښو لاندې د اوبو چینه روانه کړې( چې ترې وڅښې).

وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبٗا جَنِيّٗا ٢٥

او د خرما ونه را ټک وهه چې تازه او خوږې خرماوې دربانډې راتوی شی.

فَكُلِي وَٱشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِىٓ إِنِّي
نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ ٱلْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾

نو( خرما) وخوره او( د چينې اوبه) وڅښه او خوشحاله او ډاډمنه اوسه. او که څوک دې وليدل( او له تا يې د ماشوم پحقله پوښتنه وکړه) ورته ووايه چې ما د رحمن( خدای ) لپاره د نذر روژه نيولی نو نن له هيچا سره خبرې نه کوم.

فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ۖ قَالُوا۟ يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾

بيا خپل قوم ته په داسې حال کې راغله چې ماشوم يې په غېږ کې نيولی و. هغوی ورته وويل: ای مريمې دا خو دې ډير ناشنا او ناوړه کار وکړ.

يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾

ای د هارون خورې! نه دې پلار بد فعله سړی و او نه دې مور کومه بدلمنه ښځه وه( نو دا ماشوم دې له کومه راوړ؟)

فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوا۟ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِى ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾

مريم ماشوم ته اشاره وکړه( چې له هغه نه پوښتنه وکړئ)خو هغوی ورته( په حيرانتيا) وويل: د ځانګو له ماشوم سره څنګه خبرې وکړو؟

قَالَ إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِىَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِى نَبِيًّا ﴿٣٠﴾

( ماشوم له ځانګو نه په خبرو ګويا شو او) ويې ويل: بيشکه چې زه د الله تعالی بنده يم، ماته يې کتاب راکړی او د پيغمبر په حيث يې غوره کړی يم.

وَجَعَلَنِى مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَٰنِى بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا
دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾

او هر چيرې چې اوسم مبارک او ګټور يم او راته يې امر کړی چې د ژوند تر پايه په لمانځه او زکات ثابت قدم پاتې شم .

وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَتِى وَلَمْ يَجْعَلْنِى جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾

او د خپلې مور په مقابل کې یې نیکی کوونکی( او مؤدب) ګرځولی یم، نه سرکش او بدبخت.

وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوۡمَ وُلِدتُّ وَيَوۡمَ أَمُوتُ وَيَوۡمَ أُبۡعَثُ حَيّٗا ﴿٣٣﴾

او سلام دی وی په ما، په هغه ورځ چې زیږیدلی یم، په هغه ورځ چې وفات کیږم او په هغه ورځ چې بیرته راژوندی کیږم.

ذَٰلِكَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ قَوۡلَ ٱلۡحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ يَمۡتَرُونَ ﴿٣٤﴾

دا عیسی ابن مریم دی، هماغه د حق کلمه چې( یهودیان او عیسویان) یې په حقله په شک او تردید کې پراته دی( څوک یې خدای ګڼی، څوک یې د خدای ځوی، خو حقیقت دا دی چې هغه د الله تعالی مقرب بنده او پیغمبر دی).

مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٖۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾

د الله تعالی له شان او جلال سره مناسبه نه ده چې( د ځان لپاره) ځوی وټاکی. الله تعالی( له دغه نسبت نه) کاملاً پاک دی. د هر شی د پیدا کیدو لپاره چې اراده وکړی همدومره ورته امر کوی چې پیدا شه، او هغه بیا بې له ځنډه پیدا وی.

وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٣٦﴾

( عیسی وویل) بیشکه چې د الله تعالی واحد ذات هم زما رب او هم ستاسو رب دی، نو یوازې د هغه عبادت وکړئ چې همدغه مستقیمه( او د حق) لار ده.

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾

خو د ( عیسویانو) جلا جلا ډلو( د عیسی په باب) اختلاف پیدا کړ، نو تباهی او هلاکت دی د کافرانو لپاره چې د( قیامت )د لویې ورځې له حاضریدو نه انکار کوی.

أَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَأَبۡصِرۡ يَوۡمَ يَأۡتُونَنَاۖ لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلۡيَوۡمَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٨﴾

هغه ورځ چې دوی زمونږ حضور ته راشی( تول حقایق به) ښه په خلاصو غوږونو واوری او ښه په غړیدلو سترګو به یې ووینی خو ظالمان نن په څرګنده ګمراهی کې روان دی.

وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡحَسۡرَةِ إِذۡ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ وَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٩﴾

او هغوی وویروه د پښیمانۍ له هغې ورځې چې کار له کاره تیر وی، په داسې حال کې چې دوی د غفلت په خوب ویده دی او ایمان نه راوړی.

إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴿٤٠﴾

بیشکه چې ځمکه او د هغې په سر ټول موجودات بیرته مونږ ته په میراث پاتې کیږی او ټول بیرته مونږ ته راگرځیدونکی دی.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِبۡرَٰهِيمَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾

او په دې کتاب کې د ابراهیم( داستان) خلکو ته واوروه چې یو رښتیا ویونکی او برحق پیغمبر و( ترڅو د مکې مشرکین چې د ابراهیمی دین د پیروی ادعا کوی، پوه شی چې ابراهیم، بت پرست نه و، نو دوی هم باید له بت پرستی نه لاس واخلی).

إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِي عَنكَ
شَيۡـٔٗا ﴿٤٢﴾

کله چې یې خپل پلار ته وویل: ای زما پلاره ولې د هغه شی عبادت کوې چې نه څه اوری او نه څه وینی او نه درنه کوم ضرر دفع کولی شی.

يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدۡ جَآءَنِي مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطٗا
سَوِيّٗا ﴿٤٣﴾

ای زما پلاره ! ماته ( د وحې په وسیله) هغه علم راکړی شوی چې تاته نه دی درکړی شوی( د توحید، معاد او شریعت له تولو حقایقو څخه واقف شوی یم) نو زما پیروی وکړه ترڅو دې د هدایت (په هغه) مستقیمه لار روان کړم( چې وروستی پړاو یې د الله تعالی رضا او تلپاتې نیکمرغی ده) .

يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا ﴿٤٤﴾

ای زما پلاره! د شیطان عبادت مه کوه ځکه شیطان خو تل له رحمان( خدای) څخه نافرمان دی.

يَـٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَـٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَـٰنِ
وَلِيّٗا ﴿٤٥﴾

**ای زما پلاره! ویره مي داده چي د رحمان( خدای) له لوری به دربانديږ کوم عذاب نازل شی او بیا به دې یوازېنی ملګری او سرپرست شیطان وی( چې ته به یې د ملګرتیا اسرې ته پاتې شی).**

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَـٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَۖ
وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا ﴿٤٦﴾

**پلار یې وویل: ای ابراهیمه! آیا ته زما خدایان نه مني؟ که له ( بت دښمنۍ) نه لاس وانخلې د رټل شوی په حیث به دې پرېږدم او بیا تر ډېره ماته مه راځه.**

قَالَ سَلَـٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ﴿٤٧﴾

**(ابراهیم) وویل: سلام دی وی په تا. زه به له خپل رب نه ستا لپاره بښنه غواړم، بیشکه چه هغه تل په ما مهربان دی.**

وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ
أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا ﴿٤٨﴾

**او زه ستاسو او ستاسو له باطلو خدایانو څخه چې د الله تعالی په مقابل کې یې عبادت کوئ، ګوښه کيږم، او د خپل رب عبادت ته دوام ورکوم او هیله من یم چې د خپل رب حضور ته په عبادت او دعا کې به نا امیده او بدمرغه نه شم.**

فَلَمَّا ٱعۡتَزَلَهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبۡنَا لَهُۥٓ إِسۡحَـٰقَ وَيَعۡقُوبَۖ
وَكُلّٗا جَعَلۡنَا نَبِيّٗا ﴿٤٩﴾

**نو کله چې له هغوی او د هغوی له باطلو خدایانو نه ګوښه شو، مونږ ورته اسحاق(ځوی)او یعقوب ضض(لمسی) وروبښل او هغوی هر یو مو د پیغمبری په مقام هم سرلوړی کړل.**

وَوَهَبۡنَا لَهُم مِّن رَّحۡمَتِنَا وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيّٗا ﴿٥٠﴾

او په هغوی مو خپل رحمت ولوراوه( او په خلکو کې مو) په نیک شهرت او لوړو مرتبو یاد کړل.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخۡلَصٗا وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ٥١

او په دې کتاب کې د موسی( داستان) خلکو ته واوروه چې بې له شکه( د الله تعالی) یو سپیڅلی او غوره کړی شوی بنده او رسول او نبی و.

وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ٥٢

او د طور له ښی اړخ نه مو هغه ته غږ وکړ او په راز داری سره مو د خپل دربار په تقرب سرلوړی کړ.

وَوَهَبۡنَا لَهُۥ مِن رَّحۡمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيّٗا ٥٣

او د خپل رحمت په توګه مو د هغه ورور هارون ته هم د پیغمبری مقام ورکړ.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِسۡمَٰعِيلَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ٥٤

او په دې کتاب( مبارک قرآن) کې د اسماعیل داستان هم خلکو ته واوروه چې په عهد وفادار او رسول او نبی و.

وَكَانَ يَأۡمُرُ أَهۡلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرۡضِيّٗا ٥٥

او تل به یې خپلې کورنۍ( او قوم)ته د لمانځه او زکات د اداء کولو امر کاوه او د خپل رب په حضور کې منل شوی شخصیت و.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ٥٦

او په دې کتاب کې د ادریس د ژوند په باب هم خلکو ته معلومات ورکړه چې یو ربښتیا ویونکی شخصیت او پیغمبر و( او د قلمی لیکنو، کالیو ګنډلو، تول او پیمانې او وسلې د استعمال لومړنی مخترع او مؤسس هم ګڼل کیږی) .

وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ٥٧

او هغه مو لوړ مقام ته پورته کړی دی.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ
نُوحٖ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ
ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدٗا وَبُكِيّٗا۩ ﴿٥٨﴾

**دا ټول هغه پيغمبران وو، چې الله تعالی ورباندې د خپل نعمت پيرزوينه کړې او د آدم له اولادې وو، او د هغو کسانو له اولادې وو چې د نوح په کښتۍ کې مو سپاره کړی وو، او د ابراهيم او اسرائيل له نسله وو، او له هغو کسانو څخه وو چې مونږ ورته د سمې لارې لارښوونه کړې او( د نبوت او کرامت) په ځانګړی امتياز سره مو نازولی وو، کله چې به هغوی ته د رحمان( خدای) آيتونه ولوستل شول، په ژړا ژړا( او خشوع او خضوع سره ) به په سجدو پريوتل.**

۞ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ
يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾

**وروسته داسې کسان د هغوی ځای ناستی شول چې لمونځونه يې ضايع کړل او په شهوانی خواهشاتو پسې رهی شول، ژر ده چې د خپلې ګمراهۍ سزا به( د دردوونکی عذاب په شکل) ووينی.**

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ
شَيۡـٔٗا ﴿٦٠﴾

**خو کومو کسانو چې توبه يې ويستلې، ايمان يې راوړی او نيک عملونه يې کړی( له ګناه څخه کاملاً پاک حسابيږی) جنت ته به ننوزی او د ذرې په اندازه به ورسره ظلم ونشی.**

جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ﴿٦١﴾

**هغو جنتونو ته چې رحمان( خدای) د خپلو بندګانو سره وعده کړې او اوس له انظارو پټ دی، بيشکه چې د الله تعالی وعده پوره کيدونکې ده.**

لَّا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ﴿٦٢﴾

**هلته به دوی بې ځايه او چټی خبرې نه اوری، بلکه تل به يې سلام او درود تر غوږو کيږی او روزی به يې سهار ماښام ورته تياره وی.**

تِلْكَ ٱلْجَنَّةُ ٱلَّتِى نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

**دا هغه جنت دی چې مونږ یې خپلو پرهیزګارو بندګانو ته په میراث ورکوو.**

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ لَهُۥ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ
ذَٰلِكَ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾

**( جبرئیل علیه السلام د الله تعالی په امر وویل: ای د الله رسوله! د وحې په څو ورځنی ځنډ، مه خواشینی کیږه) مونږ (پرښتې) یوازې ستا د رب په حکم( او حکمت او مصلحت) نازلیږو، زمونږ په راتلونکې، ماضی او د هغو ترمنځ حالاتو باندې یوازې الله تعالی ښه پوهیږی او ستا رب هیڅکله هم هیروونکی نه دی.**

رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَٱعْبُدْهُ وَٱصْطَبِرْ لِعِبَٰدَتِهِۦ هَلْ تَعْلَمُ
لَهُۥ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾

**هغه د آسمانونو او ځمکې او د هغو ترمنځ(د ټولو شتمنیو او موجوداتو) رب دی، نو په پوره مداومت او استقامت یوازې د هغه بندګی کوه. آیا ته له هغه سره (بل داسې سیال شریک او) هم نومی پیژنې چې( هغه هم د آسمانونو او ځمکې رب وی؟ بلکه نشته).**

وَيَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾

**او( کافر) انسان وایی: کله چې مړ شم نو آیا بیرته به ژوندی (له خاورو) راویستل کیږم؟**

أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾

**آیا انسان دې ته نه ګوری چې دی مو له نیست څخه هست کړی دی؟**

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَٰطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ
جِثِيًّا ﴿٦٨﴾

**نو ستا په رب دې زما قسم وی، ټول دغه کافران به( چې د جهل او عناد له مخې له قیامت او حشر نه منکر دی) له شیطانانو سره یو ځای احضار او د دوزخ په غاړه به یې په ګونډو کړو.**

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾

وروسته به له هرې ډلې، هغه کسان راجلا کړو چې د رحمان (خدای له احکامو نه) زیات سرکش  او نافرمان دی.

ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

بیا مونږ ډیر ښه پوهیږو چې څوک تر نورو لومړی د دوزخ اور ته د غورځیدو وړ دی.

وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾

او ستاسو ټولو ورتګ په جهنم دی( چې مؤمنان به په صراط، جنت ته تیریږی او کافران به ترې جهنم ته غورزیږی، دغه عبور علی النار) ستا د رب  د فرمان په اساس، یو مسلم او حتمی کار دی.

ثُمَّ نُنَجِّى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾

وروسته به هغه کسان( چې له کفر، شرک، فساد او ګناه نه) پاک پاتې شوی وژغورو، او ظالمان به په ګونډو دوزخ ته وغورزوو، چې تل تر تله به پکې پراته وی.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَىُّ
ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾

او کله چې ورته زمونږ روښانه آیتونه لوستل کیږی، نو کافران مسلمانانو ته وایی چې په مونږ او تاسو کې د کومې ډلې ژوند نیکمرغه او غونډې او محفلونه یې شاندار دی؟

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَٰثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾

او له دوی وړاندې، مونږ ډیر داسې قومونه تباه کړی چې د ژوند ظاهری شان شوکت او ډول ډال یې ډیر لوړ ښکاریده.

قُلْ مَن كَانَ فِي ٱلضَّلَٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ مَدًّاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْاْ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾

ورته ووايه: هغه کسان چې په ګمراهۍ کې ژوند کوي، رحمان( خدای به د خپل سنت او قانون له مخې) ورته ښه زيات( ژوند او شتمنی) ورکړي، تر څو تول هغه شيان ووينی چې ورسره وعده شوی، (دنيوی) عذاب او شکنجه وی او که د قيامت(عذاب). بيا به دوی وپوهيږی چې د چا مقام او ارزښت ډيرټيټ دی او لښکرې يې کمزورې او بې وسه دی؟

وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْاْ هُدًىۗ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

او هغه کسان چې د هدايت په لاره روان دی، الله تعالی به ورته لا زياته لارښوونه وکړي، او پاتې شوی نيک اعمال، ستا د رب په نزد د ډير زيات اجر او ثواب او غوره انجام مستحق دی.

أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِي كَفَرَ بِـَٔايَٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾

آيا داسې څوک دې ليدلی چې زمونږ په آيتونو کافر شوی او وايي:( د کفر او شرک له امله به په آخرت کې) ماته ډير زيات مال او اولاد راکړی شي.

أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾

آيا ده ته کوم غيبی معلومات لاسته ورغلی او که له رحمان( خدای) نه يې کومه ژمنه اخستې ده.

كَلَّاۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾

(نه داسې نه ده چې دی يې وايي) مونږ به د ده تولې خبرې( د ده په عملنامه کې) وليکو او عذاب به وربانديې هم تل تر تله او دوامدار وی.

وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾

او( مال او اولاد) چې دی يې يادوی تول به مونږ ته په ميراث پاتې وی او دی به يو سر زمونږ په حضور کې ولاړ وی.

وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُواْ لَهُمۡ عِزّٗا ﴿٨١﴾

او دوی د الله تعالی په مقابل کې نور خدایان نیولی( او انګیری چې) عزت او وقار به مو ورسره زیات شیً.

كَلَّاۚ سَيَكۡفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمۡ وَيَكُونُونَ عَلَيۡهِمۡ ضِدًّا ﴿٨٢﴾

داسې نه ده. زر ده چې همدغه خدایان به د دوی له عبادت نه منکر او د دوی په وړاندې به د خپلې دښمنی اعلان وکړی.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّآ أَرۡسَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمۡ أَزّٗا ﴿٨٣﴾

آیا نه وینې چې شیطانان مو په کافرانو ورخوشی کړی ترڅو یې په شدت او قوت سره ګناهونو او شهواتو ته وهڅوی.

فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدّٗا ﴿٨٤﴾

نو ته د هغوی د هلاکت لپاره تلوار مه کوه، مونږ د دوی ټول کړه وړه (په پوره دقت سره) شمیرو( ترڅو یې تاکلې وخت راورسی او د خپلو جرایمو په سزا ورسی).

يَوۡمَ نَحۡشُرُ ٱلۡمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ وَفۡدٗا ﴿٨٥﴾

رایاده کړه هغه ورځ چې مونږ به پرهیزګاران د میلمنو په توګه د رحمان( خدای) حضور ته راوغواړو.

وَنَسُوقُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرۡدٗا ﴿٨٦﴾

او مجرمان به( لکه) تندې وهلی( اوښان) دوزخ ته وروشړو.

لَّا يَمۡلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ﴿٨٧﴾

(شفاعت کوونکی به په دغه ورځ) د شفاعت قدرت او صلاحیت و نه لری، خو یوازې هغه کسان د سفارش او شفاعت حق لری چې د مهربان خدای څخه یې اجازه اخستی وی.

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗا ﴿٨٨﴾

او( مشرکان) وایی چې رحمان( خدای) زوی لری.

لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدّٗا ﴿٨٩﴾

بیشکه چې ډیر بد او ناوړه نسبت ته مو خوله پرانستې ده.

تَكَادُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ
هَدًّا ﴿٩٠﴾

نږدې ده چې( د دې بې بنسټه او ناروا ادعا له امله) آسمانونه وچوی، ځمکه ځیرې شی او غرونه ټوټه ټوټه راپریوزی.

أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَٰنِ وَلَدٗا ﴿٩١﴾

ځکه دوی د رحمان ( خدای) لپاره د زوی لرلو ادعا کوی.

وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾

او د رحمان( خدای) شان دا نه دی چې زوی ولری.

إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَٰنِ عَبۡدٗا ﴿٩٣﴾

د آسمانونو او ځمکې ټول اوسیدونکی به یوازې د مخلوقاتو په حیث، د رحمان حضور ته حاضریږی.

لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدّٗا ﴿٩٤﴾

بیشکه چې هغوی ټول( په الهی علم او قدرت سره) احاطه او شمیرل شوی دی.

وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَرۡدًا ﴿٩٥﴾

او ټول به د قیامت په ورځ یو یو د هغه حضور ته حاضریږی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ
وُدّٗا ﴿٩٦﴾

**بیشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه کوی، مهربان ( خدای) به ورته د خلکو په زړونو کې مینه پیدا کړی( او په ټولنه کې به نیک شهرت وروبښی).**

فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ
قَوۡمٗا لُّدّٗا ﴿٩٧﴾

**( ای پیغمبره) حقیقت دا دی چې مونږ دا قرآن ستا په ژبه آسان کړی ترڅو د هغه په وسیله پرهیزگارانو ته( د ابدی نیکمرغۍ) زیری ورکړی او جګړه ماران ( له الهی عذابه) وویروې.**

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ
لَهُمۡ رِكۡزَۢا ﴿٩٨﴾

**او له اوسنیو (کافرانو او مشرکانو) نه لا وړاندې مو ډیر ولسونه( د هغوی د سرکشۍ له امله) هلاک کړی دی، آیا کله یې نوم او نښان ګورې او یا یې کوم زګیروی او خفیف آواز اورې؟**

**« تمت سورة مريم بفضل الله و عونه والحمد لله رب العالمين»**

**========================**